**مطبوعاتي اعلاميه**

**د روغتيايي امکاناتو نشت او کلابندي د غزې د مظلومو ماشومانو ژوند اخلي!**



**(ژباړه)**

په دې اونۍ کې د غزې تړانګې په شفا روغتون کې د تازه زېږېدلو په ځانګړې ځای کې درې نوو زېږېدلو ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. کابو ۱۱ کاله کېږي چې د غزې په تړانګه کې ۲ ميليونه مېشت فلسطينيان کلابند دي او ډېر سخت ژوند تېروي. د يادې کربښې اوسېدونکي له فقر، لوږې، بېکارۍ، د سون توکو نشت، د اړتيا وړ انرژۍ لړوالي، د فاضلابو په سيستم کې اختلال، د سفر بنديزونه، درملو ته نه لاسرسي او نورو څخه سخت ځورېږي؛ چې په دې برخه کې تر ټولو زيات ماشومان زيانمن شوي.

په غزه کې روغتونونه له لومړنيو توکو پرته، چې په دې وروستيو کې ملګرو ملتونو ورکړي او په بيړنيو وختونو کې ګټه ترې اخيستل کېږي، نور هېڅ ډول امکانات نه لري. اوس ډېر روغتيايي خدمتونه د ناروغانو پر مخ تړل شوي او د روغتيايي امکاناتو نشت تر ټولو ډېر د ماشومانو ژوند ګواښي او د مرګ لامل يې کېږي. لکه څنګه چې په دې وروستيو کې يادو ستونزو د دريو تازه زېږېدلو ماشومانو ژوند واخيست.

د رواني مياشتې په لومړيو کې د فلسطين په اشغالي خاوره کې د ملګرو ملتونو د بشر دوستانه خدمتونو همغږۍ کوونکي رابرټ پيپر د غزې په تړانګه کې د انرژۍ پر ډېر کمښت خواشيني څرګنده کړه او ګواښ يې وکړ چې دغه حالت به غميزې رامنځته کړي. نوموړي وويل: «د برېښنا ډېر نشت به د بشپړو بنسټيزو خدمتونو لکه، روغتيايي، د اوبو خدمتونه او د فاضلاب سيستم د له منځه تلو سبب شي.»

په ۲۰۱۶ م کې د نړيوال سازمان د راپور پر بنسټ د غزې په تړانګه کې شاوخوا ۵۰ سلنه روغتيايي تجهيزات له منځه تللي او په ګدامونو کې له درېيمې برخې ډېر اړين درمل خلاص شوي دي. په رام الله کې د روغتيا له وزارت څخه د روغتيايي درملو بندېدو لپاره د بوديجې د کمښت پر بنسټ د ملګرو ملتونو هوډ د روان کال د اپرېل تر پای ته رسېدو ۳۵ سلنه زياتوالی درلود؛ چې دې چارې حالت کړکېچن کړی دی. په داسې حال کې چې په نشه يې توکو کې د بوديجې کمښت ۴۰ سلنه و او اعلان شوې چې ۱۷۰ ډوله درمل او ۲۷۰ ډوله طبي توکي نشته.

د بشري سرچينو سازمان اجرايي مدير ډاکټر عدنان الوحيدي وايي: «د غزې په کم عمره ماشومانو کې سخته سوء تغذيه د ډېرېدو په حال کې ده او همدارنګه په مختلف عمره کسانو کې ميکروبي کېدو لوړه

کچه له غیر ساري نارغیو لکه د زړه ناروغي، عروقي، د سرطان او ډیابټ لومړي ډول څخه کمه نه ده».
دی زیاتوي: «د چاغتوب ناروغي په ماشومانو کې د ډېرېدو په حال کې ده؛ ځکه ډېری کورنۍ په لږو کالري لرونکو خوړو ژوند تېروي؛ ځکه دوی د خپلې کورنۍ لپاره له اړینو مغذي توکو څخه غني خواړه نه شي چمتو کولی.»

د غزې یاد حالت ته په کتو، ناروغان په ځانګړي ډول په تومور، د ماشومانو تبې، هماتولوژی، د سترګې ناروغۍ او ارتوپیدۍ پورې اړوند ناروغان اورشلیم او په لودیځه څنډه کې تخصصي روغتونونو او ځینې وختونه د اردنیانو او یهودیانو روغتونو ته ورځي؛ خو اړتیا ده چې له غزې نه د وتلو لپاره اجازه واخلي. د روغتیا نړیوال سازمان څېړنې ښیي چې د هغو ناروغانو شمېر چې له غزې نه د وتلو لپاره اجازه اخلي، ډېر د اندېښنې وړ دی او ډېری یې تر هغه چې د وتلو اجازه اخلي، خپل ژوند له لاسه ورکوي. د هغو ډاکټرانو اطلاعات چې د بشري حقونو لپاره کار کوي، داښیي چې د فلسطین اداره تل د اجازې غوښتنې د تصویب شمېر راټیټوي.

**ای اسلامي امته او په ځانګړي ډول د مصر اوسېدونکو!** په هغه ځای کې چې حاکمان یې د غزې له کلابندۍ سره مرسته کوي، د روغتیایي امکاناتو نشت، چې د ماشومانو د مرګ سبب کېږي، پر تاسو هېڅ اغېز نه کوي؟ ایا تاسو اولادونه نه لرئ چې د نورو درد احساس کړئ؟ ستاسو زړونه قلف شوي او د غزې په «حاشیم» کې انساني غمیزه نه وینئ؟ تاسو د فلسطین رسوا حکومت په رام الله کې په کوم حق او قانون سره په غزه کې د خلکو پر مخ درمل او طبي تجهیزات بندوئ؟ په کوم حق غربي روغتونونو ته د ورتګ لپاره د ناروغانو ورتګ ځنډوئ، په داسې حال کې چې د یهودیانو پر وړاندې هېڅ توان او قدرت نه لرئ؟ ایا د یهودانو کلابندي د دغه امت لپاره بسنه نه کوي، که تاسو دا کار د هغوی په غوښتنه تر سره کوئ؟

افسوز دې وي پر تاسو! د خلکو له ژوند څخه د غزې پر حکومت د فشار لپاره د یو کارت په توګه کټه اخلئ او خپلو ځانونو ته فرېب ورکوئ، چې ګواکې دولت او قدرت لرئ؟ تسلیم، سپکاوی، په ښکېکلاګرو پورې تړاو، پر خلکو ظلم خپله پر دغه ادعا شاهد دی. یوه شئ چې په دې دنیا کې به ستاسو واکمني ډېره ژر د نبوت پر تګلاره د عادل خلیفه په لاس نسکوره شي او د اخرت عذاب ډېر سخت دی.

**(قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ إِلاَّ الْقَوْمُ الظَّالِمُونَ)**

[انعام: ۴۷]

**ژباړه:** *ووایه تاسو له ځان سره دا فکر کړی، که د الله سبحانه وتعالی له لوري په ناڅاپي ډول پر تاسو عذاب راشي، نو له ظالمانو پرته به نور څوک هلاک شي؟*

**(وَلاَ تَحْسَبَنَّ اللّهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الأَبْصَارُ)**

[ابراهیم: ۴۲]

***ژباړه:*** *اوس چې دغه ظالمان څه کوي، ته الله سبحانه وتعالی له دوی څخه بې خبره مه ګڼه. الله سبحانه وتعالی دوی د هغې ورځې لپاره ځنډوي چې سترګې به یې رډې پاتې وي.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګه**

**د صدور شمېره: ۱۴۳۸ AH/۰۵۲**

**۱۴۳۸هـ.ق، د شوال ۸مه**

**۲۰۱۷م، د جولای ۲مه**